**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د دوی «د ښځو حقونه» یوازې د سیکولرو ښځو لپاره دي!

## (ژباړه)

د ۲۰۲۳م کال، د اکتوبر په ۱۷مه، Middle East Eye د غزې په کچه ممتازې زده کوونکې، شیما اکرم صیدام د مړینې راپور ورکړ، چې د یهودي دولت له لوري د غزې په تړانګه کې د یوه هوایي برید په ترڅ کې ووژل شوه. نوموړې په خپل ښوونځي کې د ممتازې فلسطیني زده کوونکې په توګه پېژندل کېده، چې د النصیرات د کډوالو په کمپ کې له خپلې ټولې کورنۍ سره یو ځای ووژل شوه. کورنۍ یې په جولای کې د هغې د ۹۹.٦ نمرو تر لاسه کول ولمانځل، چې تقریباً د منځنۍ دورې د آزموینې، چې التوجیهي آزموینه بلل کېږي بشپړې نمرې دي. هغې په یوه مرکه کې وویل: «ان د اسراییلو د یرغل پر مهال مې هم زړه‌کړې پرېښښودې.»

هغې د خپلو لوړو نومرو له مخې د سیمې غوره پوهنتونونو ته لار موندلی شوی. خو د یهودي دولت د روان وحشت په سبب داسې ونه شول. هغې غوښتل چې د غزې په اسلامي پوهنتون کې خپلې زده‌کړې پیل کړي او هلته د انګلسي ژباړې زده‌کړه وکړي. همدا پوهنتون اوس د پرلپسې بمبارۍ په پایله کې نړېدلی. یوازې په شپږو ورځو کې تر ٦۰۰۰ ډېر بمونه غورځول شوي. د نوموړې پلار د هغې د استثنایي لاسته راوړنو په اړه خبریالانو ته وویل، سربېره پر دې چې دبرېښنا او اوبو کمښت د هغې علمي ژوند له ستونزو سره مخ کړی و، خو هغې له دغو ستونزو سره سره د بریالیتوب کلک هوډ درلود.

غربي رسنیو ته مهمه دا ده چې ښځې څومره لنډې جامې اغوندي او څومره له شریعته لرې کېږي. اوس مهال په غزه کې، ۵۰،۰۰۰ امیندوارې مسلمانې ښځې د ولادت سرچینو ته لاس رسی نه لري او زرګونه میرمنې او ماشومان وژل شوي، یا هم په خپلو کورونو کې تر خاورو لاندې پراته دي، چې د رسنیو د خبر وړ نه ګڼل کېږي. داسې ښکاري چې د سیکولر حکومتونو، سازمانونو او فمینستې ډلو لپاره، د ښځو ژوند د دوی په جنسیت پوې نه، بلکې عقیدې پورې اړه لري.

د ښځو حقوقو د خوځښتونو؛ چې معمولاً د تګ راتګ، زده کړې او فرصتونو ته د لاسرسي د ازادۍ ملاتړ کوي، له لوري دا لوی منافقت او چوپتیا ناڅاپي نه ده. دا د نژادپالنې، ملتپالنې او استعماري اجنډا یو واقعي انعکاس دی، چې په لومړي ځل د فیمینیستې خوځښت رامنځته کېدو لامل شو. د Rockefeller بنسټ وغوښتل پر

هغو ښځو ۵۰ سلنه ډېره ماليه وضع کړي، چې په کور کې کېني. اشراف پوهيدل چې د مور په غياب کې، ماشومان داسې تربيه کېږي چې د خپلو چارواکو داسې خدمت وکړي لکه باداران يې چې وي.

ډېرى فلسطيني ښځې چې کاروبارونه، کورونه او ځمکې يې درلودې؛ د ژوند هر اړخ يې ويجاړ شوى او د بيارغونې او جبران لپاره يې هيڅ مرسته نه ده ترلاسه کړې. اوس يهودي اشغالگر ته امر شوى چې د ځمکې او مال د اشغال تر څنگ د هغو ښځتنان «وولي او ووژني»؛ له دې سره هغه فلسطينيان هم له منځه وړي چې له هوايي بريدونو ژوندي پاتې شوي.

مور د رسول الله صلى الله عليه وسلم د امت په توگه نه شو کولای چې د خپلو خويندو ژوند او حقونو ته چانس ته پرېږدو او مور همداسې ورته گورو. مور به د هغه اسلامي ژوند او نظام د بېرته راگرځولو لپاره هر ډول هڅې وکړو، چې عزتمنې مسلمانې ښځې يې مستحقې دي. مور له هغه امت څخه چې قرآن او سنتو ته ربښتيني دي، غواړو چې د يوازينی حللارې، د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسيس لپاره زمور د هڅو ملاتړ وکړي. خلافت به د دغه باعزته اسلامي امت د ښځو د ژوند خونديتوب او عزت تامين کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

«**مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًا**» [فاطر: ۱۰]

**ژباړه:** *«څوک چې عزت غواړي، هغه بايد پوه شي چې عزت ټول د الله تعالی دی.»*

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربيع الثاني ۱۴مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۲۹مه**

**د صدور گڼه: ۰۱۱/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**